با یللی مینه

(ناول)

Ketabton.com

hdiPhone6wallpapers.net

etabton.com - The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحیم

د کتاب پیژندنه

نـــوم.....بـــایللـــی مینـــه

لیکوال.....نصیب الله فیضی

شمیره.....۰۷۰۰۴۶۵۳۶۰

ډیزان..... نصیب الله فیضی

که تاسو خپل ناولونو،کیسو،کتابونو اوداسي نورو لیکنو ته ډیزاین ورکوئ

نو یاد شوي شمیري سره اړیکه ونیسئ.

etabton.com - The Digital Library

ډالۍ

دی وي ګرانې مور جانې ته مې

چې تل یې راته په خپل لپو

کې د کامیابۍ غوښتنه

یې کړې

etabton.com - The Digital Library

سریزه

انسان تل نیمګړی وي،الله تعالی انسان همداسې نیمګړې پیدا کړی،کله چی انسان مئین شي نو بیا هغه انسان دوه قسمتونه لري یا به یوبل ته رسیږي او یا به هم نه رسیږي،نو داسې نه ده چی مینه درته ونه رسیده نو ته انجلۍ وتختوه،ځان وژنه وکړه او داسې نو خرافات...

داسې انسان مې هم په سترګو لیدلای چی مینه یی وکړه خو کله چی خوستګار(مرکه) یی کورته ورغې نو بیرته په ناامیدۍ راغې مطلب دا چی انجلۍ یی ورته ورنکړه،ان دا چی انجلۍ هم ورڅخه انکار وکړ نپوهیږم چی کورنۍ فشار وو که پخپله خوښه.

خو اوس شکر الحمد الله یوه ښه ښایسته او خوش اخلاقه انجلۍ یی نصیب کی شوه چی یو نازولي لور هم لري.او بل دا چی مینه یو لوبه ده یا به یی بایلې او یا به یی هم ګټې.

هیله مند یم چی ناول راسره تر پایه ولولئ

مننه

etabton.com - The Digital Library

بایللی «««««««««««««««««««««««««««««« ناول »»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»» مینه
***

د مني د موسم اخري میاشت وو،د جمعې مبارکه ورځ وه،د آزموینې د آماده ګۍ لپاره د خپل کتابونو سره باغ ته لاړم. د یوې ونې سره می ډډه ووهله،هوا هم لکه د پاشیدلي یخو اوبو په څیر راباندې یخه ولړیده زړه مې ولړزید،سترګې می یخې شوی.

پورته د ونې یوې څانګې ته مې پام شو،لږ ورته ځیر شوم دوه ژیړې پاڼې راته وبریښیدې همداسې مې ورته کتل کله چې مې سترګې ورڅخه واړولې یوه پاڼه زما پر ولې ولوید،پورته څانګې ته مې وکتل له هغو پاڼو څخه یوه پر ما پریوته، پاڼه مې اوچته کړه ټوله ژیړه شوې وه خو مګرم وچه شوې نه وه لاهم تازه بریښیده.

له ځان سره مې وویل: مینه باید له پاڼو زده شي ځکه چې کله مرې نو بیرته د خپلې ونې پښو ته غورځیږي.یو سوړ اسویلې می وویست،پاڼه می د ونې بیخ ته ګوزار کړ.

زړه مې نه غوښتل چې د کتاب مخ وګورم ځکه لږه څه ناکراره وم داسې ناکراره لکه څه چې مې ورک کړي وي.

بیګاه مې خپله مورجانه او پلار جان مې خوب کې ولیدل،هغوي په حقیقي نړۍ کې ډیر خوشحاله ول پلار مې په عسکرۍ کې خپل ژوند له لاسه ورکړ او شهید شو.

مور مې د سکتې مغزي له امله مړه شوه،ناڅاپه مې په زړه کې یوه څړیکه احساس کړه غږ می ژړغونې شو سترګې می له اوښکو ډنډې شوی،هڅه می وکړه چې ځان مصروفه کړم خو د بیلتون غم راسره مل شو.

etabton.com - The Digital Library

لاندې ځمکې ته وکتل پر خوارو پرته کتاب مې اوچته کړه زړه مې نه غوښتل خو د پلار سره کړې وعده مې نه شوای حیره ولای:

" زویه که زه مړ یا هم ژوندې وم نو زما هیله به پر ځمکه نه غورځوې ته باید ډاکټر شې "

کتاب مې پرانیسته او په زده کړې بوخت شوم...

پر ماغزو مې زور راوست او څه نا څه مې زده کړل،پر درسونو کې ډوب وم چې ناڅاپه مې د خورکۍ غږ احساس کړ: احمده وروره! په باغ کې یې؟

ـ هو ګرانې! دلته له یوې ونې سره ناست یم.

ورور جانه! راځه چې عمران د ګاونډیانو سره جنګ کړې ژاړي.

ـ اوف خدایه! دا څه حال دې هره ورځ د دوئ همدا جګړې وي، ژر له ځایه پاسیدم د باغ دروازې پر لوري مې ګامونه ګړندې کړل...

ورور مې پر خاورو پروت او ژاړي،ور منډه مې کړه ورور مې له خاورو اوچت کړ.

ـ پاسیږه کالي دې له خاورو وځنډه،او ته چا ووهلې؟

هغه حمید ووهلم،له ما څخه یې مردکۍ(توشلې) هم وتښتولې.

ـ راځه بلا ورپسې په لوبو کې خو دا کارونه راځي،هله راځه چې کور ته ولاړ شو مخ او لاس دې پریمینځه او کالي دې هم وځنډه، نور له هغې حمید دې که څه بلا دې لوبې ونه کړې پوه شوې؟

که ماماګان او ترونه مو بې غیرتي کړای نه وای نو اوس به موږ دا حال نه لیدلای.

etabton.com - The Digital Library

دومره بی غیرته ماماګان او ترونه مو درلودل چی دومره یی هم نه ویل: چی دا وریرونه یا هم خوریان مو خو مړه دي؟ که ژوندي؟

بس څه یی کوې ما خپلې ګیلې الله پاک ته پریخي ول او په زړه کې می ورته کینه هم پریخې نه وه.

په دومره غمونو سربیره زده کړو ته لاسرسی نه مونده خو بیا هم ځان مې تر دولسم ټولګي رسولې وو خور مې هم ښوونځي ته لیږله،شپاړس یا هم پنځه لس کلنه به وه،او یو نازولې ورور مې چی عمران نومیده هغه لا پزه نه شوی پاکولې.

کله چی به مو شپې ډوډۍ وخوړه نو سهار ته حیرانه،او کله چی مو د سهار ډوډۍ وخوړه نو بیا غرمې ته حیرانه خو رزق ورکوونکې یواځې الله تعالیَ دی،که هر څنګه وي خو خپل بنده له ولږې نه مړ کوي.

د پلارجان له میراث همدا یو باغ پاتې وو، چی میوې یا هم څه کرلي ترکاري به مو خرڅه وه،

او خپل د ورځیني ژوند خواړه به مو پری اخیسته،د کور او د کلي سیالي ته مو خو لا فکر نه کاوه کنه ماته هم خدای پاک ښه ځواني راکړې وه.

په سبا ورځ باندې د کلنۍ آزموینې لومړۍ ورځ وه،سهار وختي د آذانونو سره سم پاڅیدم آودس او لمونځ مې وکړ بیا له الله پاک څخه مې د بریالي کیدلو هیله وکړه.

جاینماز مې راټول کړ بیرته په نالۍ(توشکه) وغځیدم خو خوب رانغې همداسې مې له کړکۍ نه ښکاریدلې ستوري مې شمیرلې.

د لمر بی خونده رڼا مې پر سترګو وبریښیدې له ځایه پورته شوم او د دهلیز پر لوري وخوځیدم.

etabton.com - The Digital Library

د سهرنۍ له نیمګړې ډوډۍ نه مې لږ څه وخوړل او د ښوونځي پر لوري مې حرکت وکړ...

آزموینه پیله شوه،سوالونه هم سخته نه ول خو دا چې چا زده کړه نه وه کړی نو هغه ته آسانه سوال هم سخته ښکاري. ښه په طبعه مې پارچه ښوونکي ته ورکړه،او له ټولګي ووتم.

په لړنګیدلي قدمونو له ښوونځي نه ووتم،همداسې روان وم،چې خپل تره مې ولیده له خپل زوې سره یې په ټوډي موټر کې ناست وو، د یو لاروي سړي په څیر یې راته لاس پورته کړ،دومره یې هم په زړه کې احساس نه درلود چې آیا دا به زما وراره وي؟

زه یې هم په کیسه کې نه شوم او د سلام ځواب مې هم ورنکړ همداسې ترې را تیر شوم.

تره زوی مې چې نوید نومیده هغه خو د پلار نه یې هم بدتره وو،کله چې به ما په ښوونځي کې یو ملګرې ځانته پیدا کړ نو هغه به هغوئ ته ویل:

" چې هیڅکله له غریبو سره ملګرتیا مه کوئ ځکه هغوي د ملګرتیا په قدر نه پوهیږي"

کله چې به هغه دا خبره کوله نو ما ته به خندا راتله: بدې ورځ ته همدا غریب ملګرې درسره وي.

کله،کله غریبي هم درته لوی پیغور شي،خو زما زړه کې به اور ورته بلېده خو په خوله ورته خندېدم.

بالاخره په همدې خبرو،خبرو کې کور ته ورسیدم.

د مبائیل سکرین مې روښانه کړ،ساعت مې وکته پوره په نهه نیمو بجو کورته ورسیدم.

لاړم باغ ته خور مې هم زما له راتلو لس یا هم پنځه لس دقیقې مخکې آزموینې ته تللې وه،په باغ کې ګرځیدل هم خوند رانکړ بیرته انګړ ته راغلم،خونې ته په دننه کیدو سره مې په دېوال ځړیدلي انځور

etabton.com - The Digital Library

ته پام شو،د مورکۍ څهره می پکی وو،لکه د لیونیانو په څیر مې له انځور سره خبرې کولې:

" مورجانې! تاسې به په هغه نړۍ کی خوندي یاست،څه کیږي چی موږ هم ځانته را وغواړئ "

خبری مې په ستوني کې وچې شوې،پر سترګو مې لستوڼې راتیر کړ اوښکی مې وچې کړې.

انځور مې بیرته پر دیوال وځړاوه،او پر نالۍ مې ځان ګوزار کړ لکه چې خوب هم وړی وم خو چی کله مې سترګې پرانیستل پر تندي می د لوند خیشت دستمال احساس وکړ.

ـ وروروجانه! تبه لرې،کله چی زه له ښوونځي راغلمه نو ته ویده وې کله چی مې سر درته لاس کیښود لکه د تنور پشان ګرمه وه.

خورجانې! ځان به دی نه په تکلیف کاوه،نپوهیږم چی څنګه راباندې داسې یو ناڅاپي تبه راغله.

ـ وروره! ته دا درمل وخوره او بیرته ویده شه چی تبه دی وشکیږي!

درمل مې وخوړه او کمپله می بیرته پر سر کشه کړه،او بیرته ویده شوم.

تبه مې تر ماذیګره وشکیده،هوا ډیره یخه شوی وه د سړي په هډکو یی تاثیر کاوه،باغ ته لاړم غوښتل می چی کوم وچ یا هم خرابه ونه او نور بوټي ووهم د ژمي خس لپاره.

هغه ونې می ووهلې چی میوې یی نه نیولې،خس مې انګړ ته دننه کړ او په یوه خوندي ځای کی ځای پر ځای کړ ترڅو د ژمي موسم له بارانونو او واورو خوندي وي.

د کابل د ژمي موسم خو تاسو ته هم معلوم دې چی څنګه واورې او د بارانونو اورښت وي،منې یی وچ یخ وي او ژمی یی لوند یخ،بی له بخارۍ په کابل کی اوسیدل هم نا ممکنه دي.

etabton.com - The Digital Library

د ماښام آذانونو انګازې خپرې شوې،په یخو اوبو مې آودس وکړ او د جومات پر لورې روان شوم..

لمونځ مې له جمعې سره وکړ،ملا صیب دعا وکړه ما هم الله(ج) دربار ته لاسونه لپه کړل

په ګډه مو خپل دعاګانې وکړې،تر خلاصیدو وروسته بیرته کورته ستون شوم.

د سبا آزموینې لپاره خپل درسونه تکرارول،شیبې تیریدلې بالاخره د ماسخوتن لمونځ مې هم اداء کړ

او بیرته د درس ویلو په نیت خپلې خونې ته ولاړم،تر لسو بجو می درسونه تکرار کړ اخر مې د خوبونو

څپه بانه په بانه سره سربیښ کړ.

د عادت په ډول به سهار وختې پاڅېدم لمونځ به مې وکړ،او بیا به د آزموینې ورکولو لپاره به ښوونځې

ته تللم.ښې پارچې به می ښوونکې ته ورکولې،خو بیا هم انسان نیمګړې دی نه پوره.

په باغ کی مې همدا یوه ونه وه چی د زړه راز مې ورسره کاوه،له ونې سره مې تکیه وکړ او د فزیک

مضمون کتاب مې مطالعه کاوه،یادول یی مشکل نه وو خو لږ په انسان یی فشار راوړه.

تل به مې له مطالعې وروسته د لیونیانو پشان له ونې سره خبری کولې:

ـ ای ونې! ته خبر یی چی زما د ژوند قسمت به څنګه وي؟

ـ آیا ته خبر یی چی زه به څنګه شم؟

خو ونې راسره خبری نه کولې یواځې به کله،کله د بادونو څپې د ونې له څانګو د شمال غږونه پورته

کول، په همدې سوچونو،سوچونو کی می خور راباندې غږ کړ: وروره! تا له چا سره خبری کولې؟

ـ هیڅ نه هغه ،هغه هو رښتیا خپل درسونه می تکرارول ځکه می غږ لږ پورته راته.

etabton.com - The Digital Library

زه پوهیدم چی خور می راباندې خبره ده ځکه زه څه خبر وم چی خورکی می تر کله راته غوږ وه

چی ما له ونې سره خبری کولې،سر مې پورته کړ او خورکی ته مې وویل: څه دې ویل؟

ـ وروروجانه! بیګاه ته خواړه نه لرو.

خورې ډوډۍ او چای خو به وي؟

ـ نه وچ چای هم خلاص شوې خو ډوډۍ شته.

خورجانې! له ما سره هم پیسې نشته چی،خیر زه به یی چاره وکړم غم مکوه خدای مهربانه دې.

خور می له باغ نه بیرته ووته،څه موده ناست وم چی د ماښام آذانونه پیل شول.

تر لمانځ وروسته د ګل احمد اکا دوکان پر لوري وخوځیدم..دوکان ته په رسیدو سره سم مې سلام واچوه

ـ سلام علیکم ګل احمد اکا!

وعلیکم السلام ،احمده زویه پخیر راغلې؟

ـ خیر یوسې ګل احمد اکا،څنګه یی کاروبار سره؟

ښه ده زویه ګوزاره کوو.

ګل احمد اکا: خیر خو به وي انشاءالله چی داسې په دې ماښام کی دی دوره ووهله.

ـ ګل احمده اکا ته خو په خپله پوهیږې چی زمونږه اقتصادي حالات څنګه دې،ما ویل چی که ته راته

وچ چاې او بوره راته په پور راکړې.. خبری یی راته پریکړې.

ته په خپله غریب سړی یی، چی ته له ما نه په پور سودا یوسې بیرته یی راته په څه اداء کوې؟

etabton.com - The Digital Library

یو خو تاسو غریبانو له امله موږ هیڅ ګټه نشو کولای ځه لاړ شه په ارامه مو پریده.

په لاس یی راته اوږه ټینګ کړ او پورې ووهلم،ناهیلې شوم شاته مې وکتل ګل احمد اکا راته په غوسه راته کتل،مخ مې ترینه واړوه،او بیرته خپل کور په لوري مې حرکت وکړ.

په کور کې مې خور او کوچنې ورور په تمه ول چی زه به یو څه د خوړلو ورته راوړم،خو له بده مرغه چی د نړۍ خلک یواځې مالداره خلک پیژني،هغه د شادګل په خبره موږ غریبانانو پکې هسې رش جوړ کړای،څه ووایم نو هره ورځ مې له ژوند څخه زړه توریږي.

کور ته ستړې او ستومانه ورسیدم،له پښې څخه مې ساه هم ختلې وی،د ور ګونډه مې کشه کړه،کوټې ته ننوتم،بریښنا مو هم نه درلوده یواځې د یوه بیټرۍ رڼا ته خور او کوچنې ورور مې ناست ول، زما په لیدلو خور مې پورته شوه.

ـ پخیر راغلې وروروجانه!

خیر یوسې ګرانې.

ـ وروره د وچ چای او بورې دې له ځان سره رانوړه؟

نه ګل احمد اکا په پور سودا رانکړه.

ـ نو اوس به مونږه څه شی خورو؟

نپوهیږم،وچه ډوډۍ خو به وي؟

ـ هو وچه ډوډۍ شته تنها وچه ډوډۍ؟

etabton.com - The Digital Library

هو خورجانې نو نور څه؟

همداسې کله یو او کله مو بلې خواته کتل،همداسې په کتو، کتو پخواني وختونو ته لاړم چی کله زه وړوکی وم نو پلار جان به مې په غیږ کی دوکان ته وړلم او راته به یی ویل:

" زویه! څه دی خوښیږي چی درته یی واخلم "

کله مې چی کوچني ورور ته وکتل زړه به مې را ډک شو،ځکه ما خو بیا هم د پلار مینه لیدلې وه او د خوارکي خو د پلار له مړینې څو میاشو وروسته نړۍ ته راغې،یوځل می هم دوکان ته نه دی وړی چی راځه عمرانه چی دوکان ته دی یوسم،هی،هی که د غربت وجه نه وای نو ما به خپل ورور داسې نازولی چی هیڅ به یی د پلار د نشتون احساس نه کولای،خو آفسوس چی غربت راباندې واکمن وو.

همداسې می کوچني ورور ته کتل چی په ښایسته انداز ویده شوې وو هغه هم په ولړه خیټه.

ځنډ وروسته خورجانه مې ډوډۍ په دسترخوان کې راوړ،له ډوډۍ نه مې څو مړۍ وکړی خو د زړه تسلي می پری وشو.

همداسې می د کوټې چت ته ردی،ردی کتلې نپوهیږم چی په کومو سوچونو کی به تلې وم خو چی کله می سر له بالښته اوچت کړ د ماخوستن آذانونه پیل شول.

د لمانځه پر نیت را پورته شوم،لومړی می د ورور په تندي لاس کیښود چی تبه خو نلري خو له خدایه شکر چی ناروغه نه وو،خپلې خونې ته ولاړم جاینماز می هواره کړه او د څلورو فرضو رکعتونو نیت می وتړه.

etabton.com - The Digital Library

سلام مې وګرځاوه،د جاینماز څنډه می قات کړ او لاسونه مې سپیڅلي رب ته کچکول کړ:

" ای پاکه ربه! تا په خپل مقدس کتاب کی فرمایلي:(وَاللهُ خَيْرُ الرَّازِقِيْن) ژباړه

(بیشکه الله تعالی غوره روزي ورکوونکې ده) بیشکه چی ته روزي ورکوونکې ذات یی.

خو ای پاکه ربه! تر کله به مونږه داسې په ولږه ژوند تیراوو؟ تر کله به مونږه نهره پاتی کیږو؟

تر کله به موږ داسې ژوند کاوو؟ "

ډیرې ګیلې می د الله(ج) دربار ته وړاندې کړ،جاینماز مې راټول کړ او پر خپل نالی(توشکه) مې ځان واچاوه،خوب هم نه راتلو یخنۍ راڅخه خوب تختولې وو،کمپله مې له ځان څخه تاوه کړه او نیغ کیناستم لاس مې اوږد کړ او پر اشدارې ایښې کتابونه مې را واخیستل،د سبا ورځې آزموینې لپاره خپل درسونه می په آرامه فضا کی تکرار کړل.

د ډیری مطالعې وروسته نور مې سترګې پټیدلې،کتاب می سر پورې کیښود او په درانه خوب ویده شوم.

یو خوب مې ولیده چی یو لوې سپلاب راځي او ما له ځانه سره وړي ډیر لاس او پښې وهم خو ډوبیږم، کله چی راویخ شوم ډیر ستړی شوی وم حتیَ خولې شوی هم وم په خپل وخت مې آودس او لمونځ مې وکړ،قرانکریم می را واخیست او تلاوت مې شروع کړ.

د سهار شپږ نیمې بجې شوی خپلې خونې نه ووتلم،خورمې لا هم ویده وه ویخه مې نکړه خپله مې ځانته وچه ډوډۍ راواخیسته او له اوبو سره مې وخوړه،له وچې ډوډۍ سره مې ګوزاره وکړه.

تر ډوډۍ خوړلو وروسته مې هوډ وکړ چی یو کار به ځانته پیدا کوم تر کله به داسې نیستۍ کی تیراوو

etabton.com - The Digital Library

داسې خو هم نه کیږي چې هره ورځ له ګاونډیانو نه بوره،او ډوډۍ په پور راوړه.

خو خیر توکل مې پر خدای وکړ او د ښوونځي په مې طرف حرکت وکړ،په لسو دقیقو کې مې ځان ښوونځي ته ورساوه،د ښوونځي ور پرانیستل شو ټول زده کوونکي په چټکۍ سره دننه شول ما هم ځان په ټېلو کې دننه ویست،خپل ټولګي ته ولاړم،شیبه وروسته ښوونکي له ورقو سره ټولګي ته راغې حاضري یې واخیسته او د آزموینې پارچې یې پر زده کوونکو وویشل.

په نیم ساعت یا هم شلو دقیقو کې ښه په ارامه توګه مې خپل پارچه حل کړ،او ښوونکي ته ورکړ، له ټولګي نه ووتم او د ښوونځي د دروازې په لوري مې ګامونه ګړندې کړ.

په ټوله لار کې مې د بیګاني خوب په اړه فکر کاوه چې تعبیر به یې څه وي.؟

په همدې سوچونو،سوچونو کې بالاخره کورته ورسیدم،په کوټې کې ناست وم خو طبعه مې و نه لږیده پاسیدم او د باغ په لوري مې ګامونه واخیستل.

په باغ کې ها خوا دیخوا ګرځیدلم،لمر ګرم شو د لس نیمو بجو شاوخوا وې د باغ انګړ مې جارو کړ او بیرته کورته راغلم،د څو شیبو لپاره ویده شوم.

ماسپښین قضا مهال و چې د کار په لټون ووتم،پیسې هم راسره نه وې چې تر بازاره مې کرایه کړې وای،خو مجبوره شوم د پښو مزل وکړم تقریباً د نیم ساعتونو نه هم زیات مزل وکړ،خو بالاخره بازار ته ورسیدم،هر دوکاندار یا هم بل چاته د مزدورۍ ویل نو ټولو به همدا ویل:

" ځوانه! موږ ځانته په خپله هیرانه یو "

etabton.com - The Digital Library

هیڅ کار راته پیدا نه شو،د سړک غاړو ته د ځای پر ځای شوي خیر خورو ته مې پام شو زړه مې راته ویل چی راشه ته هم کېنه،زړه نا زړه می گامونه د سړک د غاړې پر لوری گړندې کړ،

خو ته د الله(ج) شان ته وگوره په خامه لارې کی مې د گلدان تر څنگ پرتې بټوې ته پام شو، ژر می منډه کړه بټوه مې را اوچته کړه،شاوخوا می وکتل ژر می بټوه جیب ته کړه، په یوه گوښه ځای کی مې بټوه خلاصه کړه پر ناپیژندو پیسو مې سترگې ولړیدې کله چی مې راوویست نو د پیسو په کیڼ لوري ته په انگرزۍ تورو لیکل شوي یورو ته پام شو، ټولې پیسې دوه نیم سوه یورو وې.

هیڅ باور مې نه کیده داسې فکر مې کاوه چی خوب وینم،خو له نېکمرغه چی دا هرڅه په ویخه و، په بټوه کی یو پیژندپاڼه هم وه ومې ویست په پیژندپاڼې کی داسې لیکل شوي وو:

نوم سیدهاشم ولد سیدمیر ولدیت سیدگل ولایت لغمان...

مجبوري وه گنې بیرته مې خپل خاوند ته سپاره،د یورو په لیدو می زړه وښوید،لومړی ځل می وو چی یورو مې ولیدو،ډاریک د صرافۍ په لوري ورغلم.

ـ وروره! یورو په څو کې دي؟

ـ په ۸۸,۶۹ کی ده؟

ـ گوره ډیرې به وي؟

ـ هر ځای یی چی پوښتنه وکړې همدومره ده!

پوره دوه نیم سوه یورو مې ورکړې او بیرته یی د افغانۍ په حساب ۲۲۱۷۲ افغانۍ راکړې.

etabton.com - The Digital Library

په یو موټر کی بیرته خپل کلي ته ستون شوم.تر رسیدو وروسته باغ ته ولاړم،له هماغې ونې سره ډډه ووهله او له ځان سره لګیا شوم: ای پاکه ربه! بیشکه چی ته هېڅ انسان له ولړه نه مړ کوی!

او تا ویلي هم دي چی ته حرکت او زه برکت،که ما حرکت نه وای کړای نو اوس به دا شته پیسې راسره نه وای.

نپوهیږم چی څنګه ستا شکریه اداء کړم،یا الله له تا ډیر منندوی یم.

فکر کوم چی د ماذیګر آذانونه به شوي ول ژر پاڅیدم،د باغ دروازه می وتړله او کور ته راغلم خور مې د تناره په غاړه نسته وه او ډوډۍ یی پخول،ما هم ژر،ژر آودس او وروسته می لمونځ وکړ.

ترلمانځه وروسته د ګل احمد اکا دوکان په لوري مې حرکت وکړ.د سلام کلام وروسته مې ورته وویل:

ـ اکا ستا پور پر ما څومره دي؟

دری زره او اته سوه پنځوس.

له جیب نه مې د زرګونو او سلګونو ټوټې جلا کړې کله مې چی ګل احمد اکا ته ونیولې نو ډیر خوشحاله شو په رښتیا هم چی پیسې ډیری خوږی دي.

د کور لپاره مې ځینې اړتیا وړ شیان لکه: اوړه،غوړي،وچ چای او داسی نور..

مې واخیستل او د کور له ځانه سره مې کور ته راوړل،خور مې د سودا په لیدو ډیره خوشحاله شوه او وی ویل: ورور! دا سودا دې له کومه راوړه؟

بټوې د پیدا کولو کیسه مې ورته وکړه،خو خور مې مخالفه شوه:

etabton.com - The Digital Library

ـ وروره! تا باید داسې نه وای کړې هغه خوارکې به ورپسې څومره ګرځیدلي وي!

ـ خورجانې! مجبوري ډیره سخته ده،خورې زما هیڅ پیرزو نه کیږي چی تاسو دې وړې او تندې پاتې شئ،سمده ته په حقه یی خو آینده به دا کار ونه کړم،اوس نو راځه زما غیږې ته هله،خپله خور مې په غیږې کی ټینګه ونیوله.

لکه د یو پلار پشان مې پر سر ښکل کړه،سترګې مې په اوښکو لمدې شوې خو ځان مې ټینګ کړ.

د جیب نه مې ورته پنځه سوه افغانۍ ورکړی،او زه تری خپلې خونې ته ولاړم.

د شپې ډوډۍ مو ښه په ماړه نس وخوړه،له دسترخوانه شاته شوم پر بالښت مې تکیه وکړ،څه ځنډ به ناست وم چی د آذانونه وشول ما هم لمونځ وکړ او خپلی خونې ته ولاړم،په مبائیل کی مې همداسې ګوتې وهلې چی خوب یوړم.

د مني موسم سوړ باد او نیم کښې لمر وړانګې می سترګې وبریښولې،ورمیږ می هم شخه پاتی وه د سر په جګولو مې یو اخ تر خولې ووت.

خدای شته چی د سهار لمونځ هم رانه قضا شوی و،پاسیدم مخ او لاس می پریمینځل او د ښوونځي په لوري می حرکت وکړ.

آزموینې هم همداسې تیریدلې ان تر دی چی د نتایجو ورکولو ورځ راورسیده.

سپین او پاک کالي سره د تور واسکټ،او تور چرمي بوټان می واغوستل،دا مې لومړۍ ورځ وه چی په داسې انداز ښوونځي ته تلم،ښوونځي ته ورسیدم،د تره زوی نوید هم راته همداسې حیرانه،حیرانه کتل

etabton.com - The Digital Library

هغه هره ورځ په همداسې پاکې او رنګارنګ جامې اغوستلې خو زما لومړۍ ځل وو،همداسې تری راتیر شوم او خپل ټولګي ته لاړم تر اوږد انتظاره وروسته،نګران مو ټولګي ته ننوت موږ په احترام ورته ودریدو.

نګران مو د نوم سربېره د پایلې پارچې ورکولې بالاخره زما نوم یی واخیست!

نګران: آیا تاسو پوهیږئ چی ستاسو اول نمره څوک دی؟

ټول په یوه غږ وویل: څوک به وی احمد دی نو!

نوید له ځان سره موسک کیده فکر یی کاوه چی له ما نو بل څوک اول نمره ګي نیولای شي.

ښوونکي زما نوم په لوړ غږ واخیست: ستاسو نومړی اول نمره احمد دی لاسونه ورته وپړکوئ

ښوونکي او نور ټولګیوالو راته مبارکي ویل ی،نوید په بیړه له ټولګي ووته زه یی هم په کیسه کي نه شوم،له ټولو څخه می مننه وکړه او بیرته کورته ستون شوم،خورجانې ته می زیرې ورکړ چی له دولسم نه اول نمره فارغه شوم.

خورجانه می خفه ښکاریده وړاندې شوم او تری مې وپوښتل:

څه خبره ده لږه خواشینی ښکاری خیریت خو به وي انشاءالله؟

ورورجانه ماته یی پرون ښوونځي کی وویل چی د شنبې ورځ ستاسو د پایلې جشن دی تاسو سره باید د کورنۍ ښځینه غړي،مور یا هم مشره خور باید وي.

ورورجانه ته کولای شي له ما سره ولاړ شي؟

etabton.com - The Digital Library

خورجاني! زه څنګه تا سره هلته ولاړ شم هلته یی خو ښځینه غوښتي.

ـ نو وروره زه څه وکړم کاش چی مور مې ژوندۍ وای.

خورکۍ می سلګۍ وهلې ورته نژدې شوم په غیږې کی مې ونیوله او ښه مو سره وژړل.

سبا ته د جمعې مبارکه ورځ وه حمام مې وکړ او پاک کالي مې واغوستل،همداسې می باغ کې قدم وهه چی ځیني د ښوونځي ملګري می راغلل.

په باغ کې مره ته ناست وو،ښه شیبه مو سره ګپ وویشته هغوی پرته له چایو ست نه بیرته ولاړل هغوئ هم پوهیدل زموږ له ورځني ژوند نه چی څنګه ژوند کاوه،ګني ما هم ورته کلک ست وکړ خو پاتې نه شول،د جمعې مبارکې جمعې لمونځ مې وکړ،د جدي میاشت لا نوې شوی وه هوا سخته یخه وه، آسمان هم وریځ شوی وو،ترڅو چی له جوماته کورته رسیدم په لاره کې شدید باران ونیولم.

خپلې خونې کی ناست وم په د مبائیل په ډیټا کی ګوتې وهلې چی ناڅاپه مې کوچني ورور په وره را دننه شو: وروره زمونږه کوټه دری یا څلور ځایه څاڅي؟

ـ خدایه پاکه یو دا کم وو،اوس زه څه وکړم؟

سمده ته ولاړ شه زه راغلم،د مبائیل صفحه می خاموشه کړه او له کوټې نه ووتم.

د ناستې کوټه مو ټوله لمده شوی وه،باران نور هم زور واخیست تالندې به هم ورسره کله کله کیدې.

لستوني او پینځې می پورته کړې او د باندې ووتم،لږه خټه مې راواخیسته او بام(بلۍ) ته وختم ناوه بنده شوې وه ځکه ټولې اوبه په یوه ځي کی راټولې شوی وې،د ناوې څخه مې خشاکي راټول کړ

etabton.com - The Digital Library

کوم ځایونه چی څاڅیدل ټول مې په ختو اخیږ کړ،زه هم لوند شوی وم خو کار مې ژر خلاص کړ او بیرته له بلې راکته شوم.

لاړمه تشناب ته خپل کالي می وویستل ځان می پاک صفا کړ،او بیرته خپلې خونې ته ولاړم بړستنه می پر ځان واچاوه،او همداسې ویده شوم.

په سبا ورځ مې خور ښوونځي ته ولاړه ترڅو خپل د پایلې نتیجه وګوري،ما هم کوچني ورور ته مې وویل: عمرانه! زه ځم سقاوې ته چی سر او سنت جوړ کړم کور ته خیال کوه!

ـ سمده وروره! خو ژر بیرته راشه!

په خندا مې ورته وویل: سمده مشره.

سقاوې ته لاړم سر او سنت مې جوړ کړ خو کله چی بیرته کور ته راتلم،نو زمونږه د کور مخامخ کور ته یوه نوې کډه راغله خلک د موټر نه خپل د کور وسایل ښکته کول،زه هم ترېنه خپل کور ته راغلم.

څه ځنډ به په کور کې وم چی خور مې په خوښۍ کورته دننه شوه...

ـ وروروجانه! زه دوهم نمره شوم!

رښتیا بیا خو دی مبارک شه.

ـ ژوندی واوسې وروروجانه.

ته صبر وکړه زه بیرته ژر راځم،په منډه کوټې ته لاړم جوړه کړې ډالۍ می خور جانې ته ورکړ هغه ډیره خوشحاله شوه او مننه راڅخه وکړه.

etabton.com - The Digital Library

***

د پسرلي موسم وو هرې خواته د مرغانو آوازونه انګازې کولې د ګل په پاڼو د شبنمو پرخې لا خوند وربښه،د کړکۍ څخه د لمر رڼا مې سترګې وبريښولې،پر سترګو مې ګوتې تيرې کړې او يو اوږد اسويلې مې وښکه.

د سهار د ډوډۍ خوړلو وروسته يو وارې خپل باغ ته لاړم،داسې خوندور موسم و چې د ونو د ښکلا اغيزې سترګې بريښولې،خپل ونې څنګ ته ولاړم،پورته مې وکتل شنې پاڼې او سپين ګلان پکې خوريدل د شعر کتابچه مې را واخيسته او په لوستلو يې بوخت شوم:

راته پورته کړه لاسونـــــه ژاړه مه
نور مې مکړه آرمانونـــــه ژاړه مه
که هرڅو مې د قبـر سرتـــــه کيني
وبه نکړې ديدنونه ژاړه مـــــــــه
يو زه نه يم چـې د تور لحد بندي يې
خاورې شـوې عالمونـــــه ژاړه مه

د غزلې يو بيت يې رانه پاتې شوی و،خو ډير ښايسته غزله وه دا مې دوه يا هم دونيم کاله مخکې ليکلې وو،هرڅه د ژمې راهيسې بدل شوې و،ما د کانکور آماده ګې پيل کړ،او په يوه سوپر ستور کې مې دنده هم پيدا کړې وو، چې د مياشتې يې راته اووه نيم زره افغانۍ راکول.

نن ورځ وختې کار نه راغلم،په کور کې مې زړه په تنګ شو،باندې د خپل ملګرې حضرت بلال سره ووتم،د ګودر د غاړې څخه د بازار په لورې يو سړک غځيدلې و،همداسې مو سره قدم واهه،ناڅاپه مې يوه انجلۍ تر سترګو شوه،پر سر يې منګۍ ايښې وو،انجلۍ مې په دې کلې کې تر اوسه نه وه ليدلې

etabton.com - The Digital Library

د ملګري څخه مې پوښتنه وکړه: بلاله! دا انجلۍ څوک ده؟

ـ ولې ته یې نه پیژنې ستاسې د کور مخامخ ګاونډۍ ده!

څه وایې ما خو تر اوسه نه وه لیدلې.

انجلۍ زمونږه له مخې تیریدله،ما سترګې کته واچولې خو کله کله به مې د سترکو له کونج نه ورته کتل

انجلۍ د تیریدو پرمهال وه،چې یواری مې سترګې پرې وګرځولې،انجلۍ ګرد مخ،تر ما ټیټه ونه،او نرۍ

پزه یې درلوده،له ځان سره مې وویل:

ته د الله(ج) خلقت ته وګوره داسې مخلوق یې پیدا کړي چې فکر یې هم نکیږي،خو دا انجلۍ پکې بېله

غوره شوی وه،ته به وایې چې له جنت نه راغلې حوره ده،استغفرالله!

هغې ماته مخ واړوه ما ژر سترګې ښکته واچولې،هغه له موږ څخه تیره شوه،یوارې مې هغه پسې شاته

وکتل. تر بازاره ولاړو لږه سودا مو واخیسته بیرته کورونو ته ستانه شوو..

په کوټې ناست وم څه ځنډ وروسته باغ ته ولاړم،باغ هم ښایسته شوی وه،د رابېلو ونه چې زه به یې

څنګ ته یې کیناستم لکه د عطرو ونه چې وي،ټول باغ یې په بوي لړلې وو.

د شپې مې هیڅ خوب نه راتلو،ټول فکر او سوچ مې د هغې انجلۍ سره و،په هر اړخ به واوښتم نو د

هغه ښایست به مې په سترګو کې تصور کېده هیڅ خوب رانغې.

د سهار مهال وو چې خوب راباندې زور وکړ،کله چې بېرته پاسېدم د ګړۍ ستنه د شپږ او پنځه دیرش

دقو ترمنځ ولاړه وه،ژر له ځایه پاسیدم مخ او لاس تر پریمنځلو وروسته مې د کورس په لوري حرکت

etabton.com - The Digital Library

وکړ،د کورس نه به اته رخصتیدو،خو زه به پنځه لس کم اته وتم ځکه چی کار له اتو نه تر دری نیمو بجو پورې وو.

په ستور کې می هم ټول فکر د انجلۍ سره تړلې وو،څو ځله مشر راباندې غږ وکړ چی ته یو څه خواشینې یې خو ما به ورته په موسکا وویل: مشره! هیڅ خبره نه ده نن په کورس کې درسونه سخت وو ځکه لږ ورته په اندېښمن یم.

مشر مې شریف نومیده، ښه او با استعداده سړې وو اخر نو انجینیر وو.

دری نیمې نه اوښتې وی چی له کاره رخصت شوم،کور ته ورسیدم خور مې د تناره په غاړه ناسته وه او پنجه کشه ډوډۍ یی پخوله:

ـ سلام علیکم احمده وروره! پخیر راغلې!

خیر یوسې خورکۍ څنګه ډوډۍ پخوې که څنګه؟

ـ هو وروره راځه کنه ګرمه ډوډۍ واخله.

لږه ډوډۍ می ورنه واخیسته او د باغ په لوري مې ګامونه زیات کړل.

باغ مې ټول اوبه کړ او د یوې ونې څنګ ته کیناستم،همداسې مې د انجلۍ په اړه مې فکر کاوه.

سبا د جمعې مبارکه ورځ وه، د جمعې د لمانځه وروسته له بلال سره باغ ته راغلم،څو شیبې مو د چوپتیا پرده په ځان خوره کړې وه،خو کله، کله د چیچنو آوازونه دغه چوپتیا ماتوله.

د خولې څخه مې ناڅاپه ووتل: بلاله! د یو رازساتونکي ملګري په څیر راته ووایه کله هم مئین شوی یی

etabton.com - The Digital Library

بلال څو شیبې غلی وو بیا یی وویل: هو یاره دوه کاله مې مینه وکړه خو هغه مې په قسمت کې نه وه د ترور لور مې وه،ما ورسره له زړه مینه وکړه خو هغه یی بل چاته ورکړه.

د هلک له سترګو اوښکې وبهېدې.

ـ وبخښه یاره هسې می په زخم درته مالګې ودوړولې!

نه کومه خبره نشته د قسمت کارونه دي څه به ووایو،قسمت به مو همداسې و.

ما ورنه بیا وپوښتل: بلاله! ته چی کله ورباندې مئین شوی نو څنګه پوه شوی چی ورباندې مئین شوی یی؟ ـ تل به مې هغه په زړه کې وه،تل به مې د هغه په اړه فکر کاوه،خوب به نه راتلو،ښه خبره هم راباندې بده لګیده،یواځې می د هغې خبری غوره ګڼلې او کله چی می هغه ولیده نو د خوښۍ او آرامۍ احساس کاوه.

کومې خبری چی حضرت بلال راته کولې داسې ښکاریدل چی ټولې یاد شوې خبری ماکې موجود وې له ځان سره مې فکر وکړ: آیا زه په رښتیا مئین شوی یم؟

بلاله! هغه ورځینۍ جلکۍ څه وه،هغه د ګودر په غاړه چی مو ولیده!

ـ ښه هغه ستاسو ګاونډۍ؟

هو هماغه،ټوله شپه به مې د هغې په اړه فکر کاوه،حتی د کار په وخت کی هم،دا کومې خبری چی تا راته وکړی داسې می حس کړ لکه چی ته زما موجوده خبری کوې.

ـ احمده! ته مئین شوی یی زه پوهیږم اوس ته دا ووایه چی هغه پسې ناکراره یی او کنه؟

etabton.com - The Digital Library

هو ورپسې ناکراره یم، غواړم چې یوځل بیا د هغه سره مخامخ شم خو نپوهیږم چې څنګه.

ـ خو چې ورپسې ناکراره یې مطلب دا چې ته هم مئین شوی لخیره.

په خبرو کې مصروفه وو،چې ناڅاپه د بلال مبائیل وکړنګید.

ځنډ وروسته بلال وویل: احمده زه اوس درنه ځم پاتې ګپ به بله ورځ سره ولګاوو.

خیریت خو به وي انشاءالله چې داسې تلوار دې دی؟

ـ خیرو خیریت دې،هغه مشر ورور مې زنګ وهلې وو لکه چې میلمانه لرو.

مخه ښه مو سره وکړه،زه یواځې د ونې څنګ ته پاتې شوم همداسې په فکر کې ډوب وم..

زړه مې نا طاقته و، پاسیدم او د کور په طرف روان شوم د ماذیګر نیمګړې لمر په شنه آسمان ځلیده کور ته په رسیدو مې یوې انجلۍ ته پام شو چې له خور سره مې د تناره په غاړه ناسته او ډوډۍ پخوي غلې راغلم او خپلې خونې ته ننوتم انجلۍ راته آشنا ښکاریده،له کړکۍ نه مې ورته وکتل خو مخ یې نه ښکاریده انجلۍ پورته وکتل،همغه انجلۍ وه چې زه پرې مئین شوی وم،هیڅ باور مې نکېده چې دی دې هغه وي،سترګې یې د تناره په لوګي سره اوښتي وو،او تور پیکې یې په سپین مخ ټالۍ وهه.

د هرځل لاندې کتو سره به یې پېکې په نازکو ګوتو تر غوړو یوړل،یو عجیبه ښکلا خالق ورکړې وه کله،کله به یې سپین غاښونه د خندا په وخت کې بریښیدی،همداسې ورته کتل ان تر دې چې تر رخصتیدو پورې ما ورته کتل،هیڅ یې په لیدو نه مړېدم،هغې له خور سره مې خدای په آماني وکړه او خپل کور ته لاړه.

etabton.com - The Digital Library

د سبا ورځ په ماذیګر چی کله کار نه کور ته راغلم،انجلۍ زما له راتګه مخکې کورته تللې وه زړه مې ناکراره شو،خونې ته ننوتم خورکۍ مې په احترام راته پاڅیده:

ـ پخیر راغلې وروره!

خیر یوسې.

شیبه ناست وم زړه مې ډیر ناکراره شو او له خور څخه می وپوښتل:

هغه انجلۍ چی موږ کره د ډوډۍ پخولو لپاره راځي هغه څه نومیږي؟

ـ ښه هغه مخامخ ګاونډۍ مو ښودې،هغه سحر نومیږي ډیره ښه او اخلاقي انجلۍ ده.

ولې دی داسی پوښتنه وکړ؟

هغه رښتیا هو څه،هېڅ همداسې ډیره ښایسته انجلۍ ده بس.

ژر ترېنه ووتم چی کومه بله پوښتنه ونکړي،د باغ په لوري می حرکت وکړ.

زړه می راته وویل: چی راشه ورته لیک ولیکه،د زړه مې ونه منله خو د ډیر ناکرارۍ له امله مې هوډ وکړ،کتابچه مې راواخیسته او زړه نا زړه می ورته داسې ولیکل:

" سلام سحرجانې! هیله مند یم چی روغ او جوړ به یاست

ګوره ګرانې مینه کول یواځې د دوو زړونو کار دې،او ګناه هم نلري ځکه که ګناه درلودې

نو اوس به الله(ج) له نازولي پیغمبر سره به مو مینه نه کولای،

ګرانې! لنډه دا درته وایم چی په کومه ورځ مې چی لیدلې یی درباندې مئین شوی یم.

etabton.com - The Digital Library

هغه ورځ چی ته موږ کره د ډوډۍ پخولو لپاره راغلې وې د ارامۍ احساس می کاوه

خو د پرون زما له راتګه مخکې کور ته تللې وې،تر اوسه پورې زما زړه ناکراره دی درپسې

لنډه دا چې دومره درته وایم

(سحرجانې زه مینه درسره لرم)

یو بیت می هم ورته ډالۍ کړ

چی ودې نګورم خفه غوندې یـــم

ای در مئین شومه که څه کیسه ده

د شبانې ورور احمد

لیک مې په ښایسته خط ورته ولیکه او له ځان سره مې په جیب کی کیښود،خو نه پوهیږم چی څنګه یی ورته ورکړم،له څه فکر او سوچ وروسته می هوډ وکړ چی خورکۍ ته به مې ورکړم هغه به یی ورته ورکړي.

د شپې لمونځونه مو وکړل خور مې د ویده کیدو په نیت پاڅیده خو ما پری غږ وکړ:

خورې ته زما خونی ته ولاړه شه زه درځم تا سره مې لږ کار دې.

خور مې د سمده په معنا سر وخوځاوه او په خونې کی راته په طمعه شوه،خونې ته ننوتم خور ته می وویل: خور جانې یوه هیله درڅخه لرم؟

ـ په سر سترګو ولې نه.

غواړم یوه خبره درسره شریکه کړم موضوع هم د مینې ده.

etabton.com - The Digital Library

ـ سمده ووايه.

هغه انجلۍ چې دلته راځي د ډوډۍ پخولو لپاره،زړه يې راڅخه وړې نپوهيږم چې څنګه ورته د مينې وړانديز وکړم او نپوهيږم چې قبول به يې کړي او کنه؟

ـ خو يو ليک ورته وليکه دومره خو د انديښنې خبره نه ده!

ليک مې ورته ليکلی دی دا دې،له جيب نه مې ورته ليک وښود،راته يې وويل:

ـ ليک ماته راکړه زه به يې ورته ورکړم.

ليک مې ورته ورکړ،او له کوټې مې رخصته کړه،په زړه کې مې سل رقم خبرې راتلې،چې هغه به يې درسره ومني؟

خو ما يوائې توکل په خدای وکړ،څه چې په قسمت کې وي هغه به کيږي.

***

انجلۍ: د دې کلي هلکان هم با ادبه خلک دي،يوه ورځ په لارې روانه وم چې دوه هلکان مې مخې ته راغلل،يو يې جګه ونه او خرمايي ويختان درلودل،ډير حياناکه هلک وو،کله چې ما ورته وکتل ژر يې سترګې واړولې،ته راشه زمونږه وطن ته چې مخامخ څه چې پس شا خبرې هم درپسې کوي.

د احمد خور شبانه: هو زمونږه د کلي هلکان سپين سترګي هلکان نه دي،هله ډوډۍ ته پام کوه چې وسوځيده؟

انجلۍ: اوف دا څووم ځل دی چې په خبرو کې رانه ډوډۍ سوځي،څه بلا ورپسې اخري ډوډۍ ده.

etabton.com - The Digital Library

ښه شبانې جانې زه به درنه ولاړه شوم.

ـ پاتې شه ماذیګرې دی چای به راسره وڅښې؟

مننه ژوندی یوسې،کور کې به مې مور راته په طمعه وې،خپله د ډوډۍ شکور یی پورته کړه او روانه شوه.

ـ سحر ته صبر وکړه یو څه درته درکوم!

سمده ولې نه،شبانه ورمخته شوه او په غلې انداز یی ورته وویل: دا لیک درسره واخله ستا لپاره دی.

د څه شي لیک دی؟

ـ ته یی واخله کور کې به یی ولولې!

سمده راپکړه،لیک یی ورته ورکړ او خپله کورته ولاړه.

انجلۍ چی کله کور ته ورسیده، شکور یی په خونه کی کیښوده او د لیک په لوستلو یی پیل وکړ:

" سلام سحرجانې! هیله مند یم چی روغه او جوړه به یاست

ګوره ګرانې مینه کول یواځې د دوو زړونو کار دې،او ګناه هم نلري ځکه که ګناه درلودې

نو اوس به الله(ج) له نازولي پیغمبر سره به مو مینه نه کولای،

ګرانې! لنډه دا درته وایم چی په کومه ورځ مې چی لیدلې یی درباندې مئین شوی یم.

هغه ورځ چی ته موږ کره د ډوډۍ پخولو لپاره راغلې وې د ارامۍ احساس می کاوه

خو د پرون زما له راتګه مخکې کور ته تللې وې،تر اوسه پورې زما زړه ناکراره دی درپسې

etabton.com - The Digital Library

لنډه دا چې دومره درته وایم

(سحرجانې زه مینه درسره لرم)

یو بېت می هم ورته ډالۍ کړ

چې ودې نګورم خفه غوندې پـــم

ای در مئین شومه که څه کیسه ده

د شبانې ورور احمد

انجلۍ د لیک تر لوستلو وروسته ډیره ویریدلې ښکاریده او له ځان سره یی وویل:

که له دی خبره ورورنه می خبر شي ژوندۍ به می پری نږدي،خدایه زه اوس څه وکړم،انجلۍ په انګړ کی داسې ګرځیده را ګرځیده ته به وایی چی څه ورڅخه ورک شوي وي.

د شپې انجلۍ ته خوب نه ورته،ټوله شپه یی همدا فکر کاوه چی که ورورنه می خبر شي څه به پیښ شي انجلۍ دوه ورځې د احمد دي کره ورنغله مور یی څو ځله ورڅخه وپوښتل خو انجلۍ یي په ځواب کی ویل: موري سترګې مې د تنور له لوګیو سره حساسیت پیدا کړې.

څو ځله پرله پسې د هلک څخه انجلۍ ته لیکونه را لیږل کیده خو انجلۍ به په ځواب کی ورته ویل:

که ورورنه مې خبر شي نپوهیږم چی څه به راباندې وکړي؟

که څه هم د هلک خور ورته ډاډ ورکاوه خو بیا هم انجلۍ ورڅخه انکار کاوه.

یوه ورځ شبانه د سحر دي کور ته راغله له مور سره یی روغبړ وکړ او ورته یی وویل:

etabton.com - The Digital Library

تروري که ستا اجازه وي نو زه به سحرجانه خپل باغ ته يوسم.

ـ ولې نه لورجانې هر څنګه چی دی زړه وي.

انجلۍ سره باغ ته ولاړه،په باغ کی په ايښي چوکۍ کيناستلو سره سم شباني ورته وويل:

سحرجاني که ته زما له ورور سره مينه وکړې نو ورور دی څنګه خبريږي؟

بی له هغې خلک ټول پوهيږي چی احمد بد سترګې هلک نه او بل دا چی ته هم موږ کره د ډوډۍ پخولو لپاره راځې،که تاسې د يو بل مينه قبوله کړئ ورور به دې څنګه پوهيږي؟

پوهيږم چی احمد جان ښايسته او با اخلاقه هلک دې زما هم زړه غواړي چی ورسره مينه وکړم، سمده خو که ورونه مې خبر شي بيا به له ژونده لاس واخلمه.

شباني په ټوکو وويل: پروا نه کوي ترڅو چی دې ورونه خبريږي نو موږ به تا خوستګاري کړو.

د سحر شونډې په خندا بيلې شوی يواځې يی سپين غاښونه بريښيدل.

انجلۍ نه شوای کولای چی مخامخ هلک څخه د مينې وړانديز قبول کړي نو هغې هوډ وکړ چی ليک به ورته وليکي.

شبانه خپل کورته راغله او ورور ته يی زيرې وکړ:

ـ وروره انجلۍ رضا شوه،خو د اوس لپاره يی څه ونه ويل.

په زړه کې دومره خوشحاله شوم چی پوښتنه يی مه کوه،خور مې پر تندي ښکل کړه او باندې ووتم د حضرت بلال سره يوځاې چکر ته ولاړم نن کار ته هم نه وم تللې.

etabton.com - The Digital Library

بلال: هلکه احمده نن یو څه خوشحاله ښکاری خیریت خو به وي؟

ـ هی هی بلاله که د غربت کالي مې نه وای اغوستی نو اوس به مې د زیري شیریني درباندی خوړلی وای. اوس دا ووایه چې د څه شي زیری راباندی کوی؟

ـ هغې جلی می د مینې لیک قبول کړ.

څه وایی،بیا دی نو مبارک شه الله پاک دی مینه درته ښه کړي. ـ مننه بلال جانه!

څه موده مو د زړه خبری کولې چی بیرته تری کور ته راستون شوم.

دا ورځ راباندی په خوشحالی تیره شوه خو ډیره اوږده شوه ډیر په طمعه وم چی انجلی به کله راته ځواب راکوي؟

سبا ماذیګر چی کله کورته راتلم نو خور مې راته لیک راکړ،تر هرڅه مخکې خونې ته لاړم او لیک می پرانیسته پکې داسې لیکل شوي وو:

سلام ګرانه! مننه دا چی د زړه خبره دی راته دومره په اسانی سره وکړه

زه خو دومره جرعت نلرمه خو بیا هم دومره درته ویلای شمه چی

زه هم مینه درسره لرم

زه دی له مینې انکار نه کړم

څو چی ژوندی یم مینه ستا سره کومه

ستا مینه سحر

❤

etabton.com - The Digital Library

خوشحالي دومره راباندی بوج شو چی نور مې نه غوښتل خوشحاله شم،خو په هر حال می شکر ویسته د هغې ورځې راهیسې هیشه موسکا پر شونډه ګرځیدم،بلال ته مې هم د لیک وویل هغه هم ډیر خوشحاله شو،خو خوارکي خپل د بایللي مینې په هکله خواشینې شو سخت زړه می پری بد شو.

هغه به چی هره ورځ موږ کره راتله نو ما به ورسره د تناره په غاړه خبرې کولې،کومه ورځ چی ما هغه او هغه ما یو له بل سره نه لیدل هلته به په هغه ورځ نه تیریده او دلته به پرما.

یوه ورځ د تناره په غاړه ورسره ناست وم چی هغه راته وویل: تا خو زه لیونی کړې یم لیونی خو لا څه کوې ان روږدي کړې دې یمه چی یوه ورځ دی ونه ګورم خوب مې نه راځي.

ما ورته وویل: که ورونه دی خبر شي زموږ پر مینه بیا څه کوې؟

ـ هرڅه چی کوي ودی کړي زه ستا مینه یم که حلاله می هم کړي نو ژوند می له تا قربان.

د هغه دا غیرتي خبری مې ډیری خوښیدې،نو هرځل به مې ورته همداسې خبری کولې..

د سنبلې میاشت په اته ویشتمه نیټه د کانکور آزموینه پیلیده،تر اوسه لا دری میاشتې څخه ډیر پاتې وی همداسې مو مینه روانه وه،زه د هغې په مینه او هغه زما په مینه کی ډوبه وه،یواځې دوه ورځی چیرته په میلمستیا تللی وه هېڅ وخت راباندې نه تیریده مبائیل یی هم نه درلود چی زنګ می وهلی وای،او د زړه خواله مې ورسره کړی وای.

خو کله چی په بله ورځ موږ کره راغله ما ورنه کلکه غاړه واخیسته:

ـ دا دومره موده چیری وې زما خو دی زاره وچوله؟

etabton.com - The Digital Library

تللې وم د ترور کره ماما می په حق رسیدلې وو.

ـ ښه،الله دی ورته جنت او فردوس په نصیب کړي. آمین.

ـ کومه ناروغي درلوده که په خپل مرګ؟

نه په خپل مرګ.

همداسې به مو خبری سره کولې چی په نازیدلي انداز یی راته وویل: ګرانه ته که راڅخه جلا شوی نو زه به مړه شم او ګوره چی تر قیامته به راسره مینه کوی.

ورځې تیریدلې او زموږ مینه هم همداسې روانه وه،د کانکور ازموینه پیله شوه آزموینه مې ورکړه او بیرته کور ته راغلم،خبره نوره هم لنډوم چی د کانکور د آزمویني نتیجې آعلانیدې ما هم په انټرنټ کی خپل نوم ولوست چی کابل عمومي اووه کلنۍ طب ته کامیابه شوم، په هغه ورځ مې د پلار آرمان پوره کړ تر دې مخکې ما قسم کړاې وو تر هغه به د پلار مزار ته نه ځم ترڅو می چی د پلار هیله پوره کړی نه وي خو دا دی نن هغه ورځ وه چی ما پکی خپل د پلار هیله پوره کړه.

د پلار مزار ته ولاړم لحدۍ می ورته په تیره وټکاوه او سلام مې پری واچاوه..

د لیونیانو پشان ورسره خبری شروع کړی: پلارجانه مورجانې! ستاسو نازولې زوی احمد راغلې هغه هم پس له څو کلنو، هیله لرم چی راڅخه خفه شوي نه اوسئ،نن ځکه راغلم چی خپل کړې قسم مې پوره کړ،زه لا کور ته هم نه یم تلې لومړې می تاسو ته مبارکې ورکړه.

په خوشحالۍ بیرته کور ته ستون شوم خور او ورور می هم راته مبارکې وویل،خو څو ورځی کیدی چی

etabton.com - The Digital Library

د انجلۍ هېڅ څرک نه لګیږده،په بله ورځ مې ولیده او د څو ورځو دیدن می نن وکړه زه د هغه په لیدو هیڅ نه مړیدم،دا ورځ هم ورسیده چی د بیلتون په اور کی مبتلا کیدم،سبا ورځ می د پوهنتون ته د تګ ورځ وه له کورنۍ نه مې خدای په آماني واخیسته خو سحر نه وه،څو ځله هڅه مې وکړ چی له سحر سره وګورم ځکه اخري ورځ مې و،خو له بده مرغه همداسې،ناهیلې له کور څخه ووتلم.

***

د پوهنتون په لیلیه کی پر کټ اوږد غزیدلې پروت وم ساعت ته مې وکتل د شپې یوولس بجې شاوخوا ښودلې،هېڅ خوب نه راتلو ټول فکر او سوچ می د سحر په لوري و.

د سهار لمونځ هم راڅخه قضا شوی و،تر ډوډۍ خوړلو وروسته درسي ساعت پیل شو په لومړي سر کې درسونه لږ سخت و،خو وروسته بیا عادي شول،زه هم ورسره عادي شوی وم ځکه درسي ساعت کی ما د سحر په اړه له فکرونو نه لاس اخیستې و،یواځې درس ته به متوجې وم.

دا څلور میاشتې سمستر داسې راباندې تری شو لکه څلور کاله خو کله چی بیا کور ته ستون خورجانه او ورورجان مې ډیر راته خوشحاله ول،هغوی زما په نشتون د ونې میوې او نوره ترکاري په بیه خرڅولې او کور به یی چلوه،کوچنې ورور می چی اوس د یوولس یا هم دولس کلن وو هم یی خپل تعلیم کاوه او هم یی ما پشان غریبي،یوه شپه خور مې راته وویل: وروره انجلۍ ته خواستګاران ډیر شوي هغه خوارکۍ ستا سره مینه ده،ټول خواستګاران یی په خپله ځواب کړي زړه مې غواړي چی دا خبره سپینه نه شي باید زه په مرکه باندې یی کور ته لاړه شم.

etabton.com - The Digital Library

له څه فکر وروسته می ورته وویل: سمده خو ته به زما په نشتون کی د هغوی کورته په مرکه ورشې

ـ سمده که د خدای رضا وه؟

ورځې همداسې تیریدې د انجلۍ مور هم خبره شوی وه چی سحر د شبانې په ورور مئینه شوی.

زړه می داسې ناکراره وو لکه څه چی مې ورک کړی وي،د سمستر رخصتي می هم پوره شوه بیرته پوهنتون ته ولاړم خو په زړه کی مې دا یو لوې ارمان پاتې شو چی سحر مې ولې ونه لیده،بیلتون تش کالبوت رانه جوړ کړې وو حتی څو ځله د ډیر تشویش له امله په درسي ساعت کی بی هوښه شوم.

***

شبانې خپل ځان تیار کړ ترڅو د احمد لپاره د انجلۍ کور ته مرکه ولاړه شي خو د تلو په وخت کی یی عمران ته مخ واړوه: ورروره! په کور پام کوه زه ولاړمه!

ـ سمده زه کور کې یم زه به پری پام وکړم!

شبانه د انجلۍ کور ته ورغله یو څه موده سره ناسته وه او کیسې یی کولې خو خبره یی ورته یاده کړه:

ـ تروري زه غواړم دغه ګاونډیتوب په خیبني بدل شي مطلب دا چی زه ستاسې لور سحر خپل ورور ته غواړم که ستاسو خوښه وي!

د سحر په سترګو کې خوښي را څرګنده شوه خو انجلۍ هم وچه کلکه شوی وه،که انسان هر څومره ژوره تبه تیره کي دومره به یی له درده ویلې نه شي لکه څنګه چی یی بیلتون ویلې کوي.

د انجلۍ مور چی له خوی نه سنګینه معلومیده وی ویل لورې اوس خو درته څه نشم ویلای،زه به یواری

etabton.com - The Digital Library

د انجلۍ پلار او ورورنو سره سلا وکړم که هغوئ ومنله بیه خو زه هېڅ نیوکه نه لرم.

د انجلۍ مور له شبانې څخه وپوښتل: هلک څه دنده لري؟

ـ تر اوسه خو هغه د کابل پوهنتون د اووه کلنۍ طب محصل دې.

ښځې سر وخوځاوه او د شین چایو نه یی یو غړپ وکړ،شبانه نوره تمه نه شوه خو د تلو په وخت کی یی ورته وویل: تروري تاسو سلا سره وکړئ بیا به ماته خبر راکړئ!

ښځې د هو په نیت سر وخوځاوه او شبانې سره یی مخه ښه وکړه..

بیګاه ته د انجلۍ ورونه او پلار راغلل تر ډوډۍ خوړلو وروسته یی خپل خاوند او زامنو سره یی بحث وکړ: سړیه غواړم یوه خبره درته وکړم او موضوع هم د مرکې ده،نن زمونږ مخامخ ګاونډیانو نه د سحر لپاره یوه انجلۍ په مرکه راغلې وه او ویل چی زه ستاسو لور خپل ورور ته کوم.

د سحر پلار چی لعل محمد نومیده وویل: هلک څه کاره دې؟

هلک احمد نومیږي او د کابل پوهنتون د اووه کلنۍ طب محصل دی،او کاروبار نه کوي،یو باغ لري په هغوئ ځان چلوي.

د کورنۍ یی څو کسه دي؟

دری کسه احمد خور یی او ورور یی،پلار او مور یی په حق رسیدلي.

لعل محمد اکا: ته څه وایی چی زه خپله لور داسې بی وزلو او نادارو خلکو ته ورکړم،هغوئ خپله د ځانته حیرانه دي نو زمونږ لور به څنګه وساتي په بلا یی وهم د هلک پوهنتون.

etabton.com - The Digital Library

سړیه! ته خو یواری د لور نه دې هم پوښته وکړه چی مني یی او کنه،همداسې له ځانه پریکړه مه کوه.

د سړي رنګ تګ سور شو او له خولې نه یی پرتې ووتې: هغه څه کاره ده پریکړه زما ده او هره پریکړه چی زه کوم هغه یی باید ومني!

انجلۍ چی په خپله خونه کی د دوي خبرو ته غوږه وه تر خبرو وروسته یی دومره وژړل چی ولاکه یی په ژوند دومره ژړلي وي.

د انجلۍ ورونو هم ونه منله،د سحر مور د سحر لیدو لپاره یی خونې ته ولاړه،سحر ژر خپلې اوښکې وچې کړی،لورجانې! پلار او ورونه خو دې ونه منله که زه ورته ووایم چی دوي دواړه سره مینه...

سحر یی خولې ته لاسونه پورته کړل:

ـ موري هیله کوم دا خبره ورته ونکړې کنه نو ما به ژوندۍ پری نږدي.

لورې بله چاره خو نشته هېڅ نه رضا کیږي،لورې ته هم تیره شه دې غوړې شوروا نه؟

ـ انجلۍ د دې په ویره چی مور یی څه ونه وایي ورورنه ته خبره تائیده کړه.

په سبا باندې شبانه بیا د سحر دي کره راغله تر روغبړ وروسته د انجلۍ مور ورته په پراخ تندي وویل:

لورې خفه نه شې! ما خو درسره منلې وه خو د سحر پلار او ورونه ونه منل.

شبانه ټکان وخوړ او وی ویل: تروري مګر دوي خو له یو بل سره مینه لري؟

زه هم پوهیږم چی دوي له یو بل سره مینه لري.

ـ تروري ته څنګه خبره شوی چی دوئ له یو بل سره مینه لري؟

etabton.com - The Digital Library

ماته سحر ویلي و،ځکه د هلک حیا،ښه سترګي،او غیرت خوښ شو کنه زه له مینې ډیر نفرت لرم!

او دا هم چی ما سحر ته وویل چی زه یو واري دی د مینې مسله پلار ته ووایم چی هغه څه وایی،خو هغې راسره ونه منل.

شبانه پاڅېده او ورته یی وویل: الله(ج) دی سحر تاسو ته مبارک کړي،او همداسې تری را ووتله.

د کور ته په رسیدو زړه نا زړه وویل: زه به مې ورور ته څنګه ووایم،څو ځلې هڅه وکړه چی مبائیل کی د احمد شمېره ډایله کړي خو زړه یی نه غوښتل چی د هلک زړه مات کړي.

له ځان سره یی وویل: هڅې نه هم دوه میاشتې پاتي په خپله به راشي.

خو کله چی به احمد خپلې خور ته خبره یاده کړه نو خور به یی ورته داسې ویل: وروره د هلک کورنۍ غواړي تا وګوري،ناچاره وه پوهیده چی زړه یی ماتیږي،نو له همدې امله به یی ورته درواغ ویل.

خو هله،هله دا دوه میاشتې هم تیرې شوې هلک خپله زده کړه ښه ترسره کوله،تر آزموینو ورکولو وروسته بیرته کورته راغې.

څو ورځې همداسې تیریدې شبانې خپل ورور ته دروغ ویلي وو چی د انجلۍ مور او پلار چیرته تللي چی کله راشي بیا به یی کورته ولاړ شو،یوه ورځ شبانې د کور انګړ جارو کاوه چی دروازه یی وټکیده دروازه یی پرانیسته سحر وه ،یو کارت یی ورکړ او بیرته ترینه ولاړه شبانې هرڅومره غږونه پسې وکړل خو انجلۍ خپل کورته ننوته.

شبانې ور پورې کړ او کارت یی خلاص کړ،پورته عنوان یی ولوست لیکل شوي وو(**جشن نامزادی**)

etabton.com - The Digital Library

انجلۍ حيرانه شوه چې کوژده د چا دې داسې پکې ليکل شوي وو:

فامیلهای «لعل محمد حیدری» و «نور محمد حیدری»

در سپیده دم بهاران زنده گی جشن نامزادی عزیزان خویش

آقای «سلیم حیدری» و دوشیزه «حیدری»

را با یک دنیا آمید و آرمان بخواست آفریده گار هر دو جهان برگذار می نمایند

از محترم / محترمه احمد همراه با فامیل خوایشمندیم

تا با تشریف آوری خویش محفل ما را رنگین تر سازد

وقت پذیرایی: روز سه شنبه مورخ 1396 / 4 / 17 ساعت ۵ بعد از عصر

محل پذیرایی: تالار عروسی سپوږمی ولاسوالی بگرامی گذشته از قومندانی بگرامی پهلوی کریمی الیکتریک

انجلۍ د ليک تر لوستلو وروسته حيرانه پاتې شوه ځای په ځای کيناسته او سر يې په لاسونو ټينګ ونيوه او ژړل يې ناڅاپه د دروازې د خلاصيدو غږ راغې د ژر يې اوښکې پاکې کړې ګوري احمد وو د انجلۍ سترګې سرې واوختې هڅه يې وکړه چې ځان په جارو بوخت کړي خو ورور يې ورباندې غږ وکړ: خورې يوه ستنه راوړه چې لاس کې مې اغزی تلی.

انجلۍ يې ستنه راوړه احمد ورته پام شو چې انجلۍ لاندې ګوري احمد وويل: ته ماته ورګوره،انجلۍ

etabton.com - The Digital Library

پورته وکتل،سترګې یې سرې او رنګ یې الوتې وو،خورې دا سترګې دې ولې سرې دي رنګ دې هم الوتې؟

انجلۍ غلې شوه،احمد یې زنه ونیوله او په ځیر ورته وکتل: آیا تا ژړلي؟

ـ انجلۍ نور یې ورڅخه څه نه شوای پټولای له سترګو یې اوښکې جاري شوې،احمد په ټینګه لهجه وویل: اخر ته ولې ژاړې څه خبره ده ماته یې هم وکړه؟

انجلۍ ورته په ژړغوني غږ وویل: څه همدا درته ووایم چې تر ننه مې هرڅه درڅخه پټ کړي وو

احمد تر اوږو انجلۍ ونیوله: څه شوي ته ولې داسې خبرې کوې د څه شي پټول؟

نن ماښام ستا د مینې کوژده ده.

ـ څه دا نشي کیدای که ته داسې ټوکې کوې بیخي خندا نلري،انجلۍ کارت ورته ورکړ هلک چې کله په رښتیا خبر شو داسې چیغې یې وهلې لکه د لیونیانو پشان حتی، ګریوان یې هم څیرې کړل.

خور یې هڅه وکړه چې پخلا یې کړي خو د دواړو،د ژړا انګازې بیرته یو بل ته منعکس کیدې،احمد روقې ته یوځل بیا پام شو آدرس یې واخیسته، ساعت ته یې وکتل درې نیمې بجې وې ،ژر له ځایه پاڅیده کالۍ ته یې پام هم نه شو خو خور یې ورته پام کړ کالي یې بدل کړاو د باندې ووته،په مخې کې یې حضرت بلال ملګرې را څرګند شو،احمده خیر خو دې انشاءالله؟

بلاله پوښتنې به ډیرې نه کوې راځه یو ځې ته ځو هر څه بیا په لارې کې درته وایم.

بلال یې هم له ځان سره روان کړ،په منډه،منډه ځانونه یې تر عمومي سړک ورساوه،په یوه موټر کې د

etabton.com - The Digital Library

بګرامي قومندانۍ خواته حرکت وکړ،احمد ټوله کیسه بلال ته وکړه هغه بیچاره دا هرڅه تیر کړي وو پوهیده چی څومره سخته او څومره زور غواړي،څه ځنډ وروسته ډریور د جاوید امرخیل سندره خپره کړه هغه چی وایی:

چیرته یی قراره بی قراره یم

چرته یی قراره بی قراره یم

راشه چی تنها یمه بی یاره یم

راشه چی تنها یمه بی یاره یم

یو خو مي هڅي نه هم په زړه کی اور بل و،بل ده سندره ویلي کړم.

بالاخره هغه هوټل مو پیدا کړ چی پری په ځلانده او رنګارنګ په غټ تورو لیکل شوي وو:

تالار عروسی سپوږمۍ د ودونو تالار

کارت مي ورته ښکاره کړ زه او بلال تر تالاشۍ وروسته دننه ولاړو نپوهیدم چی څنګه ښځینه تالار ته ولاړ شم ناڅاپه می ذهن ته یوه خبره را څرګنده شوه،بلال ته مي وویل: موږ باید د هوټل مدیر وګورو!

ـ هغه سره څه کار لرو؟

یوه خبره مي په مغزو کی وګرځید،ساعت ته مي وکته له اتو نه هم اوښتي وی،موږ باید مدیر ته یی ووایو چی موږ د ګارسونانو په هیڅ ونیسي ترڅو ښځینه تالار ته د ډوډۍ وړلو لپاره مونږه ولاړ شو، او هلته به زه خپله **بایللي مینه** وګورم.

etabton.com - The Digital Library

د منجمنټ څانګې خواته مو حرکت وکړ،زه لکه د لیونیانو پشان بی اجازی دفتر ته ننوتم،مدیر یا د هوټل مرستیال له ځایه اوچت شو: دلته څه خبره ده؟

بلال وویل: بخښنه غواړم ښاغلیه! دی خپل ماغزه له لاسه ورکړي!

بلال راته مخ واړوه او راته یی په غوسه ناکه لهجه وویل: څه کوی احمده لږ په هوښ راشه.

ـ څنګه په هوښ راشم هه،څنګه په هوښ! ته خبر یی چی پر ما څه تیریږي، نن زما په شتون د هغې کوژده ده،او ته وایی چی په هوښ راشه!

مدیر حیرانه وو،نپوهیده چی څه خبره ده او څه روان دي؟

مدیر احمد ته په آرامه توګه وویل: ځوانه لږه سړه ساه واخله اخر څه خبره ده او ولې دلته راغلي یی؟

زما نور غږیدل له لاسه نه کیدل،دانګې وانګې کیدم.

بلال وویل: څه خبره به وي،نن شپه د ده د مینې کوژده ده،یعنې جلی بل چاته کوژده شوه اوس پوه شوی بخښنه غواړم ښاغلیه زه هم احساساتي شوم.

مدیر وویل: ښښنه غواړم خو زه په دی کارونو مو کار نلرم!

احمد د مدیر خواته لاس ورواچاوه،بلال یی لاس شا دخوا نه کلک ونیوه:

احمده داسې مکوه هیله کوم،احمد بیرته شاته شو بلال بیا مدیر ته مخ کړ: ښاغلیه موږ د لپاره راغلي یو چی دې د کارکوونکي پشان د ښځینه تالار ګارسون شي،او دا وایی چی یوځل غواړم د هغه مخ وګورم او د نوي ژوند مبارکي ورته ووایم.

etabton.com - The Digital Library

ـ زه داسې نشم کولای ځکه دا کار ډېر ګواښونکې ښکاري،که هلته دی یو څه پېښه رامنځ ته کړي بیا خو به موږ تباه او برباد به شو!

احمد وویل: ښاغلیه هیله کوم او وعده هم درکوم چی هیڅ لیونتوب نه کوم هیله کوم پښو ته مو غورځم؟

د بلال شونډې یوځل بیا وخوځیدی: ښاغلیه زه یی زیموار یم،او زه باور ورباندې لرم چی دی به هیڅ پېښه نه رامنځ ته کوي،ښاغلیه هیله کوم زړه یی مه ماتوه؟

سمده،خو تاسې باید دلته ګوته کیږدي د هرې پېښې مسوول به پخپله یاست.

بلال ورڅخه مننه وکړه او خپل ګوته یی د ضمانت په لیک ونښلوله.

ـ او هه رښتیا موږ ډوډۍ پوره په لس نیمې بجی میلمنو ته ورکوو.

بلال: سمده ښاغلیه موږ به انتظار وکړو، یوځل بیا هم مننه.

د هوټل مخی ته په چمن کیناستو له زړه مې یو خدای خبر وو،ته نو پخپله فکر وکړه،چی کله ته په یو انسان لومړي ځل مئین شې او وعده هم درکړي چی زه به له تا سره تر قیامته واوسم او بیا درنه بل چاته واده شي،له ژوند څخه په تنګ راغلم،دنیا راباندې تنګه شوه داسې تنګه لکه په قبر کی چی پروت واوسم ساعت ته مې وکتل د ساعت ګړۍ د پنځه لس کم لس بجې ښودلې،هره دقیقه راباندې کال تیریده.

خو خدای پاک دا شیبه هم ورسوله چی د نارینه وو تالار څخه ووتو،د ښځینه تلار په لوري مو تښګونه وځغلول،کله چی تالار ته ورسیدم نو لومړی می سترګې د ستیج خواته شوې.

سحر لکه د مني موسم پاڼه داسې رنګ یی الوتې وو،سترګې مې ډکې شوی،هغه بل ګارسون چی د زوم

etabton.com - The Digital Library

او ناوې خواته تبنګ ځغلولو ما پرې غږ وکړ او ومې ویل چې زه یې هلته وړم.

پیکداره خولۍ مې نوره هم ټیټه کړه،او تبنګ نه مې د وریجو لوښې کښته کړ،ما بیا دلته غلطي کړې وه،چې هغه خوشبویي مې په ځان پاشلې وه چې د سحر خوښیده،سحر زما د کالو خوشبویې احساسه کړه او ژر یې ماته وکتل،خولۍ لږه پورته کړه،زما په کتو یې د پیپسي ګیلاس له لاسه ولوید ما په سترګو اشاره وکړه چې آرامه شه،زوم خوارکۍ په دسمال یې خپل کوټ پاک کړ،زه بیرته ترې وګرځیدم او د تالار نه د وتو په وخت کې مې یوځل بیا سحر ته وکتل او د سترګو په اشاره مې ورته په موسکا وویل: نوې ژوند دې مبارک شه.

د تالار نه ووتم شاوخوا مې سترګې وګرځولې مخامخ دوکان ته مې پام شو بلال هلته راته په تمه وو.

احمد لکه د بنګیانو په څیر روان وو،ته به وایې ښه ډیر بنګاوه یې څکلې وې،په فکرونو کې غرق روان وو،د سړک څخه تیریده چې یوه لارۍ یې مخې ته راغې احمد په ځان کې نه وو،ډریور ډیر هارنډونه ووهل خو بې پروا احمد هېڅ نه اوریدل،د موټر هارنډونه ډیر شول بلال په منډه کې احمد ته غږ کړ: احمد ودیره چې لارۍ دې!.

بلال منډه ودروله چې یو درز وشو احمد د لارۍ پر بانټ ولګیده،تقریباً پنځه که شپږ متره هاخوا ګوزار شو، بلال چیغه کړه: نه،نه خدایه داڅه وشول نه احمده،خو احمد خپل روح بیرته د امانت په څیر الله(ج) ته وسپاره بلال د احمد سر پورې ولاړ وو،ناڅاپه احمد کانګې شروع کړل د احمد ماغزه په سړک ټول پاشیدلې پراته ول.د څو دقو په ترڅ کې پولیسان او امبولانس راغې.

etabton.com - The Digital Library

یو پولیس مخ ته شو او بلال ته یی وویل: ځوانه پیښه څنګه او کله منځ ته شوه؟

بلال هرڅه ورته وویل خو پویلس ورته بیرته وویل: هیله کوم ملامت ستاسو ملګرې وو موږ څه نه شو کولای،الله تعالی مو درته د زړه صبر و زغم درکړي.

د احمد جسد یی امبولانس ته پورته کړ،او د کور پر لوري یی حرکت وکړ،په لاری کی ناڅاپه د احمد جیب نه کړنګ وشو،بلال د احمد له جیب نه د هغه مبائیل وویسته،ضد ضربه یی ټوله ماته شوی وه خو روغ وو،پر کوډ یی غټ اېس ولیکه کوډ یی خلاص شو ګوري د سحر په نامه د یو انجلۍ پیغام وو.

پر پیغام یی کلیک وکړ داسې پکی لیکل شوي وو:

« مننه دا چی زما کوژدن ته راغلې او بیا دا چی کوم جنجال دی جوړ نکړ،احمده نور ما هېره کړه تر قیامته د خدای په امان،تاته هم نوی ژوند غواړم ګرانه »

بیا یی یو د مات شوي زړه او د ژړا استیکر لیږلې وو،د بلال زړه غوښتل ورته ولیکي چی د احمد ژوند دی داسی برباد او خاورې په سر نکړ چی هغه بیا نوی ژوند پیل کړي.

مبائیل یی بیرته د جسد په مربوطه وسایلو کی واچاوه،ځینې وخت به یی سلګۍ هم وهلې..

کورته په رسیدو سره بلال د خدای بخښلي احمد دوي دروازه وټکوله که څه هم خبره له نیمې شپی هم اوښتې وه خو د احمد کورنۍ هم په تشویش کی ول.

دروازه یی ورور پرانیسته د امبولانس په لیدو هلک جام شو،ناڅاپه یی چیغه کړه: بلاله وروره! دلته څه شوي هیله کوم راته ووایه؟

etabton.com - The Digital Library

بلال هلک په غیږ ونیوه او ورته یی وویل: عمرانه! احمد خپل ژوند نور تاسو ته وبخښه.

د عمران په چیغو سره شبانه هم تر دروازې راغله،هغه خبره نه وه خو د خو د امبولانس په لیدو هغې سترګې هم ډنډې شوی،ناڅاپه یی وپوښتل: د خدای لپاره څه شوي؟

بلال: خورې که ته اجازه راکړې زه به د احمد جسد...د جسد په اوریدو سره شبانه بی هوښه شوه،بلال امبولانس کی یی ډاکټر ته چیغه کړه،ډاکټر صیب انجلۍ بیرته په هوښ راوسته،د احمد جسد یی په خونې کی کېښود،انجلۍ چی د سر نه یی څادر هم غورځیدلې وو،منډه یی کړه د بلال پښو ته ګوزاره شوه:

وروره زاري درته کوم یوسه خو ووایئ؟

بلال ورته ټوله کیسه وکړه چی څنګه او څنګه مړ شو،انجلۍ د احمد جسد سرته ناسته او سلګۍ وهلې.

د احمد دوي ګاونډیان هم له خوبه ویښ شول چی په دی نیمې شپې کی څه خبره شوی؟

خو بالاخره د غم شپه سبا شوه،بلال د ګور او کفن غمه یی وکړه تر نهه نیمو بجو پورې د جنازې مراسم پای ته ورسېد،انجلۍ لا هم ځګېروی کولې: ای وروره ستا له مړینې وروسته موږ څه وکړو؟

او ډیرې خیراوې د سحر کورنۍ لپاره وکړی،بلال انجلۍ ته وویل: خورې که څه ته مو اړتیا پیښیده ماته خبر راکړئ؟ انجلۍ د هم په ځواب سر وخوځاوه، بلال په خواشینې سره له کوره ووته.

په بله ورځ د احمد دوي دروازه وټکېده،عمران دروازه پرانیسته ګوري چی تره یی راغلې.

شبانې ورڅخه په ژړغوني غږ ورته وویل: څه غواړئ او څه ته راغلي یی لکه چی یو همدا پیغور راته پاتې وو چی ورور هم درنه لاړو؟

etabton.com - The Digital Library

د احمد تره چی نومیده انجلۍ ته یی په غوسه مخه کړه او وی ویل:

خوله دې پخیر خلاصه کړه پلیتې؟

انجلۍ بیا وویل: ته مې د ورور جنازې کی چیرته وی؟

هغه،هه ماته چا خبر نه وو راکړې!

درته وایم ووځه زموږ له کور نغواړم چی ستا نجس قواره وګورم!

ګلاب په قهر له ځایه پاڅیده او انجلۍ ته یی کلکه څپېړه ورکړه،انجلۍ پر ځمکې ګوزاره شوه او د خولې نه یی وینې هم بادې شوې،انجلۍ سر پورته کړ او له نازکو شونډو څخه یی وینې بهیدې په دې کی نو عمران هم راغې،دلته څه خبره ده خورې دا خوله دې ولې وینې ده؟

عمران پوه شو چی د تره کارونه یی دې ځان یی غلې کړ ځکه هېڅ یی د لاسه نه کیدل.

ګلاب بیا غږ کړ: زه راغلې یم چی تاسو یوسم خپل کور ته او تاسې پر ما ملنډې وهئ!

انجلۍ بیا غږ کړ: څه ملنډې،ملنډې خو ته پر موږ وهې چی ورور مو هم په هغې دنیا کی په ارامه نه پریګدې؟ ولی داسې کوی؟ موږ هېڅ چیرته درسره نه ځو موږ همدلته ژوند کاوو.

ګلاب وویل: سمده ته په سړیتوب پوهه نه شوې،انجلۍ یی له لاس نه ونیوله او د انګړ پر لورې ځان پسې کشکاړله،عمران: اکا دا ته څه کوی خور مې خوشې کړه،کله چی عمران د اکا د لاس خوشې کولو هڅه وکړه،یو دروند څپېړه یی پر مخ احساس کړ،هلک یی هم ونیوه او د باندې ولاړ موټر کی یی واچول،انجلۍ ټوله لاره کی یی سلګۍ وهلې خو د تره له وېرې یی څه نه ویل.

etabton.com - The Digital Library

بالاخره خپل د تره کور ته ورسېدل،دننه انګړ کې یی د تره ښځه ولیده چی ناسته ده او سابه پاکوي..

د تره ښځې د دوئ په لیدو یی خپل میړه ته وویل: دا فاحشه دی څه ته راوسته؟

ګلاب وویل: دوئ یو مې هم نه راوستل خو زه په دې وویریدم چی هلته دوئ داسې کار ونکړي چی زمونږه عزت ته صدمه رسوي.

شباني بیرته ورته ځواب ورکړ: تاسو کله عزت درلود؟

ګلاب: درته وایم ګونګی شه د سپي لوری پر پلار دی لعنت شه.

د انجلۍ په سترګو کې د اوښکو سیلاب راڅرګند شوی،انجلۍ ځان ټینګ کړ او څه یی ونه ویل.

***

د خور او ورور ژوند یی د مزدورانو پشان کړې وو،په انجلۍ باندې د کور ټول کارونه کول،او په هلک باندې یی د کور نه باندې مزدوري کوله،عمران ته یی ګواښ کړی وو،که وتښتیدې،نو د خور راتلونکې به دی ښه نه وي،هلک هم د همدې په ویری هم به یی کارونه کول او هم به یی ورته باغ ساته ښوونځې خو یی هڅې هم ورباندې زهر کړي وو،کله چی به د ډوډۍ وخت شو نو پاتې شونې به یی خوړل،همداسې یی زنده ګي روانه وه،یو ورځ د ګلاب دوئ کره میلمانه راغلل.

شبانه د میلمنو مخې ته د چایو ډکې پیالې ایخوستلې چی یوه سپین سرې ښځې پوښتنه وکړه:

زرغونې دا انجلۍ څوک ده ما خو دلته بیخي نه ده لیدلې؟

د تره ښځه یی ځواب ورکړ: دا مې د مې د لیوره لور ده دلته مو له ځانه سره ساتلې.

etabton.com - The Digital Library

سپین سرې بیا وویل: ماشاءالله ډیره ښکلې ده.

د زرغونې په څهره خوښې راڅرګنده شوه، ځکه دا خلک هغه خلک ول چې له دوې سره یې د شخصي مشکلاتو له امله بدۍ ته اوښتې ول،د سپین سرې زوی یې وژلې وو ځکه هغوئ ورڅخه په بدۍ کې لور تری غوښته،زرغونې داسې فکر وکړ چې زه به مې خپله لور ورنکړم،لږ تر لږه له دې بلاوې څخه خو به خلاصه شمه.

شبانه بیرته پاڅیدله او د پخلنځي خواته یې حرکت وکړ،ځینې لوښې یې مینځلې چې یوه خبره یې تر غوږ شو دا د همغې سپین سرې ښځې غږ وو: تاسو خپله پریکړه وکړئ موږ ده ته نه یو راغلي چې هره ورځ تاسو کره چای وڅښو،زه سبا ماذیګر راځمه او دسمال له کور نه درڅخه وړم.

میلمانه بیرته ولاړل،انجلۍ له خبرې نه خبره نه وه چې د څه شي دسمال؟

شپې چې کله شبانې خواړه پخولو چې یو ناڅاپه یې د د تره د ښځې خبرې واوریدې: وه سړیه! نن هغه ښځې بیا راغلې وې،ویل یې چې موږ سبا ماذیګر درڅخه دسمال وړو.

ګلاب وویل: موږ به اوس څه وکړو دا هرڅه د نوید له امله پر موږ راځي!

د تره ښځې بیا وویل: د دې خبرې په اړه ما فکر کړې.

ګلاب: څنګه؟

هغه داسې چې موږ به د شبانې دسمال ورکړو له دې لارې څخه به هم له دوئ او هم له بدۍ خلاص شو،که څنګه؟

etabton.com - The Digital Library

ګلاب بیرته ځواب ورکړ: ولا لومړی ځل دی چی داسې د هوښیاري خبری کوی.

انجلۍ نه ښیښه یی قاپ وغورځید او منډه یی کړه،د خپل اکا پښو ته ګوزاره شوه: هیله کوم اکا داسې ظلم راسره مه کوئ زاري درته کوم خیر دی ما په بده چاته مه ورکوئ.

ګلاب خپله پښه ټیل وهله،انجلۍ وغورځیده او سر یی له ځمکې سره کلک ولیږده: ګرانې بله چاره نه لرو موږ خو نشو کولای تا پریګدو او خپله لور ورکړو نو ته مو څه لپاره راوستې یی ډوډۍ خوړلو ته؟

انجلۍ ته یی وویل: سبا ماذیګر ستا دسمال ورکوو،که چیرې انکار دې وکړ نو هغه د څوارلس کلن ورور مخ به دې هم ونه وینی هغه به ورته د مزدور پشان ورکړو.

انجلۍ د ماخوستن لمونځ وکړ او الله(ج) ته لاسونه لپه کړ: ای خدایه! زما ورور دی ولې راڅخه واخیسته؟ د ورور له مړینې وروسته پر موږ څه تیریږي؟ یه خدایه تر سهار مې پاتې نه کړی الهي امین.

په سبا ماذیګر یی دسمال ورته ورکړ،خو شبانه خبره نه وه چی هلک به څنګه وي؟ځوان دی که زوړ؟، خو بس همداسې یی د ورور لپاره چی د چا مزدور نه شي هرڅه په ځان ومنل.

ورځې همداسې تیریدلې پوره شپږ مایشتې وروسته د انجلۍ واده پیل شو..

انجلۍ یی پنځوس یا هم شپیته کلن سړي ته ورکړې وه،واده یی په غم تیر کړ، په سبا ورځ د سپین سرې په کور کې غامغال پیل شو،کله چی د تره ښځه یی خبره شوه،ژر یی ځان د غالمغال ځای ته ورساوه.

etabton.com - The Digital Library

دننه ټول د ناوې کوټې دروازې سره ولاړ ول او دننه یی کتل کله چی یی د تره ښځه په ټیل ما ټیل کې ځان ننویسته ګوري چی شبانې ځان زیندۍ کړې وو.

د تره ښځه یی له خاوند څخه وپوښتل چی داسې څنګه وشول؟

شپیته کلن سړي وویل: ټوله شپه ناوې ژړل کله چی سهار زه له خوبه راویښ شوم نو انجلۍ ځان زیندۍ کړی وو.

شبانې هم خپل ژوند سره خدای په اماني وکړه او خپل امانت روح یی د آسمانونو خالق ته وسپاره، او له خپل ورور سره یی په هغه دنیا کی کې ژوند پیل کړ،او پاتې یو ورور یی چی هغه هم د تره د کور مزدور پاتې شو.

پای

ستاسو کوچنی ورور

نصیب الله فیضی

Thank you for reading

Find more e-books and articles on Ketabton - your multilingual digital library.

www.ketabton.com

Ketabton - Pashto, Farsi, Arabic & English